## کوچني اختر مو مبارک شه!

## د کوچني اختر د لمانځه پوره طریقه

1. **نیت کول:** ( نیت کوم د کوچني اختر دوه رکعته واجب لمونځ سره د تکبیرونو اقتدا کوم دې امام پسې مخ مې د کعبی شریفی په لور )
2. **تکبیر تحریمه:** امام او مقتدیان وایي: (الله اکبر) لاسونه تر غوږونو پورته کړي او بیا پر ناف کیږدي
3. **د ثناء لوستل:** (سبحانک اللهم وبحمدک وتبارک اسمک وتعالی جدک ولا اله غیرک)
4. **درې اضافي تکبیرونه:** امام وایي: (الله اکبر) لاسونه تر غوږونو پورته کړئ او ښکته يې پريږدئ دا عمل درې ځله تکرار کړئ د دريم تکبير وروسته لاسونه په ناف کيږدي.
5. **فاتحه سورت او بل سورت لوستل:** امام سورت فاتحه لولي تاسې باید چوپ ودریږي (الحمد لله رب العالمين... تر اخره يې لولي) بیا یو بل سورت لولي مثلاً (سورت اخلاص)
6. **رکوع او سجده:** امام تکبیر وایي: (الله اکبر) ټول رکوع ته ځي او وایي: (سبحان ربي العظيم ۳ ځله) بیا له رکوع څخه راپورته کيږي امام وایي (سمع الله لمن حمده) او مقتدیان وایي (ربنا ولک الحمد) بیا ټول سجدې ته ځي او وایي (سبحان ربي الاعلی ۳ ځله) بیا دوهمه سجده هم په دې ډول سره کوي او دوهم رکعت ته ودریږي.
7. **دوهم رکعت شروع فاتحه سورت او بل سورت:** امام سورت فاتحه تر اخره لولي او بیا یو بل سورت هم لولي مثلاً (سورت الفلق)
8. **درې اضافي تکبيرونه:** امام وایي: (الله اکبر) لاسونه تر غوږونو پورته کړئ او ښکته يې پريږدئ دا عمل درې ځله تکرار کړئ څلورم تکبير سره ټول باید رکوع ته لاړ شوو رکوع کې (سبحان ربي العظيم ۳ ځله) بیا له رکوع څخه راپورته کيږي امام وایي (سمع الله لمن حمده) او مقتدیان وایي (ربنا ولک الحمد) بیا ټول سجدې ته ځي او وایي (سبحان ربي الاعلی ۳ ځله) بیا دوهمه سجده هم په دې ډول سره کوي.
9. **وروستي قعده:** د سجدې څخه وروسته ټول قعده ته کيني (التحيات، درود شريف او دعا لولي)
10. **سلام ګرځول:** امام او مقتدیان ښي او چپ طرف ته (السلام علیکم ورحمته الله وایي)

**د لمانځه وروسته امام دوه خطبې لولي چې دا خطبې اوریدل واجب دی په آرام او چپتیا سره اوریدل او په وروستیو کې په ګډ دعا او د دعا وروسته د ټولو سره اختر مبارکې کول**

**زما له طرفه کوچني اختر مو مبارک شه**

**ترتیب کوونکي: محمد یونس زیرک**